مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد ایاز نوری ۲۰۲۵/۰۳/۱۵

انارګل خوستي ته

د شاغلي انار ګل خوستی څخه زما دغه غوښتنه:

تاسو ۱۳ د مارچ د استقلال ویب سایت کي د «دایر نمودن جلسه اعضای بیروی سیاسی حزب منحله کمونیست خلقی پرچمی» تر عنوان لاندې زما په آدرس لیکنه کړې او زه دې خوش خدمت او یو خائین، مار آستین, د خلق د دیموکراتیک ګوند د سیاسي دفتر د عضو تر مقامه خطاب کړی یم. اما تا انارګل خوستي په بې ایماني او وارخطایي سره زما نوم نه ده ذکر کړئ؟!. بلی، ما په افغان-جرمن پورتال کي د محترم مدیر صاحب قیس کبیر د ملي خدماتو لپاره مشخص وړاندیز کړای ده. اوس زه تاسو جناب څخه پوښتم، چې په حقوقي لحاظ زه د دغه وړاندیز کولو حق لرم، که زه د شاغلي انارګل خوستي څخه اجازه واخلم؟ آیا ته په کوم حقوقي لحاظ زما د دغه وړاندیز مقابل کي باید ماته د خاین خطاب وکړې او ما توهین کړې؟

بد بخته انار ګله، ما خو ځان پخپله خوښه افغان ولس ته معرفي کړای ده، حتی خپل مرحوم پلار، تره مې، کلی، قام او نور معلومات مې لیکلي او افغان ملت ته تقدیم کړي، اما اوس ته خپله څوک یې؟ مونږ ته ځان مکمل معرفي کړه؟ څو کاله پخوا، محترم محمد داوود ملکیار تانه وغوښتل، چې ځان ورته معرفي کړه؟ اما تا خو فرار وکړ، ولې؟ ملکیار صاحب دا هم تاته ولیکل، چې دا انار ګل خوستی، پخپله د استقلال د ویب سایت مدیر ده، اما نه تا او نه د سایت مدیر دغه اتهام ته جواب ورکړو، ولې؟ خی ته کومه توظیف سوې استخباراتي شبکه یاست، چې د افغان ولس تر منځ نفاق اچول مو روزانه کار او بوختیا ده؟ ته خو انسان یې، لومړی ته باید انسانیت ولري. ته ښایي لږ خپل ځانته درنشت ولري. که ښه دي له لاسه پوره وي، د خلق الله سره یې وکړه، حد اقل شر مه جوړوه. زه د یوه عقیده مند افغان دا درته لیکم، چې هر څه او د هر بنده نیت له پاسه تر کنترول او څارنې لاندې دي. د هغو انجام حتی دغه دنیا کي وګوره، چې ستا غوندې په فساد او رزالت اچولو بوخت ول، دوی فقط ذلت او هلاکت ته ولاړل. که قلم لري، د انسانیت د تامین لپاره کار او زیار وکړه. افغانان سره وصل کړه، سوله او سلم وکړه. ته به خبر نه وې، دغه دري کاله وشول، په اوکراین هېواد کي سخت مدرن جنګ روان ده، هلته ستا غوندې انسان تباه کېږي، پر غزه څه حال ده. که رشتیا ته افغان یې، ورسه د خپلو خوست والو او نورو افغانانو د خیر او راحتي لپاره کار ورته وکړه.؟! د ماشومانو په ځېر حسادت او ضد مه کوه، بزرګواري پیشه کړه. که زه ستا پر نزد د خلق ګوند د سیاسي دفتر کس یم، نو ته پر ما څه کولای سې؟ بیا ولې انتظار یې؟ .!

زه غواړم، تا انار ګل خوستي سره له نژدې ووینم. دغه کتنې ته زه خپل پاسپورت، د هویت کارت او افغاني تذکره مې ځان سره راوړم. له تاسو عالیقدر څخه هم غواړم، چې خپل پاسپورت، کارت د هویت او افغاني تذکره مو دغه ملاقات ته د ځان سره راوړئ. هلته به زه او ته سره وینو او ته باید زما شک لري کړې، چې ته واقعاً یو خوست وال یې او ستا نوم دقیق انارګل ده؟ او که ته یوه جعل کار، برقه پوش ملي خاین او د افغانستان د مظلوم ملت دوشمن او کوم وجدان خرڅوونکئ استخباراتي کس یاست؟. ستا مخ باید د نوموړو اسنادو د فوتو سره مطابقت ولري. بیا به زه هم تاته ځان له سره معرفي کړم او ته به هم ماته ځان معرفي کوې، چې ته د خوست په ولایت کي د کومې سیمې یې، پلار دې کوم نوم لري، او زه به بیا نفرموظف کړم، چې هلته خوست کي هم ستا راکړي معلومات راته دقیق کړي، او د استقلال د ویب سایت د محترم مدیر څخه دا غواړم، چې زما دغه لیکنه د دغه مشکوک کس په باب نشر کړي .

انار ګل خوستیه؟! ستا د دقیق جواب په انتظار یم.

A-khosti-jalsa-e-aza-e.pdf

پای

مطالب نشر شده از **محمد ایاز نوری** در پورتال افغان جرمن آنلاین

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ